انجنیر سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۰۲/۰۷

# ګاونډی ته!!

ګېه کور کی زما ویردی ته خندا کړی ګاونډیه!
زه سوځم په لمبو کی ته نڅا کړی ګاونډیه !

وریږی په ما کاني ستا له بام پرله پسی
هم کاني وروی او هم غوغا کړی ګاونډیه!

پوهیږی څه توپیر دی بیلوی چی ما اوتا؟
زه غلوسره دښمن یم او ته غلا کړی ګاونډیه!

رنګ رنګ دی نړولي دیوالونه زما د کور
د رنګو دیوالو مې تماشا کړی ګاونډیه!

خپل کړي دي له ما دی څو ساده ورونه زما
نـړی سره هغوی باندی سودا کړی ګاونډیه!

خبر نه یی احمقه چی انجام به دی وی څه؟
«لعیین» غوندی به سپک ځان د دنیاکړی ګاونډیه!

وعده ده د الله «ج» چی حق غالب دی په باطل
په درواغو به نړی څومره خطا کړی ګاونډیه؟

ته غلا کوه له ما پرله پسی په پته پته
خپل کور به دی په نورو غلو تالا کړی ګاونډیه

پرته ده درته مخکی آزموینه د تاریخ
پو هیږی کلیوال ځان به رسوا کړی ګاونډیه!

جوړیږی محکمه درته د عدل نن سبا !
تور مخ به دی په کوم د لیل صفا کړی ګاونډیه؟

فبروری۲۰۱۸/۰۱ – تورانتو کانادا